غزا نور
۲۰۱۹/۰۲/۰۵

# وزیرستان؛ له پیر روښان تر منظور پښتین

د وزیرستان تاریخ ته یو ځغلنده نظر ښيي چې د پښتنو د متمدن ژوند او خپلواکۍ اخیستلو لومړۍ چیغه له دې سیمي پورته شوې ده.

پیر روښان چې متمدن ژوند ته د پښتنو د هڅولو لومړنی لارښود بلل کېږي د سوېلي وزیرستان کاني ګورم اوسېدونکی او پر ۱۵۲۵ زېږېدلی دی.

پیر روښان د کتاب او قلم له لارې پښتانه پرمختللي ژوند ته هڅول. همدا لامل و چې هڅې يې چټکې پراخېدې او پر وزیرستان سربېره د پښتنو مختلفو سیمو ته ورسېدې او پښتنو کې یې ملتپالنه او د ملت جوړوني فکر پیدا کړ.

مغول چې پوه شول پښتانه بیدارېږي، پر وړاندې يې پورته شول او له امله یې پیر روښان هم سیاست او جګړې ته مخه کړه.

*د پښتنو پېغلو پر سر د پښتین خولی

*د منظور پښتین خولی د حق غوښتنې پر سمبول بدلېږي؟

افغان لیکوال او تاریخپوه حبیب الله رفیع وایي پیر روښان له مغولو سره جګړه کې ووژل شو، خو پلویانو او اولاد يې تر سلو ډېر کلونه د ده مبارزه روانه وساتله.

د استاد رفیع په خبره، پیر روښان د پښتنو د پاڅېدلو لومړی محرک دی او د مبارزې ګټه یې دا وه چې راتلونکو خوځښتونو ته سرلاری شو:

"له ده وروسته د ایمل خان مومند قیام و، د دریا خان اپریدي قیام و، بیا د خوشال بابا قیام و، دا ناکام شول خو میرویس نیکه قیام وکړ او هغه کامیاب شو او لوی احمد شاه بابا قیام وکړ چې د لوی افغانستان ډبره یې کېښوده او تر هند ځمکې یې خپله امپراتورۍ کې را ګډې کړې."

د فقیر ایپي پر مهال له وزیرستان چاپېدونکي پښتون رڼا چې د هغه تر مرګ وروسته هم چاپېدله .

له پیر روښان وروسته د شلمي پېړۍ په لومړۍ یوه نیمه لسیزه کې ملا پاونده مسید د ټول وزیرستان د مبارزو سرلاری و او د انګرېزانو خلاف یې مبارزه کوله.

امیر عبدالرحمان خان چې له انګرېزیانو سره د ډیورنډ تړون لاسلیکاوه، ملا پاونده ترې وغوښتل چې خلک جګړې ته وهڅوي او دا تړون لغوه کړي.

استاد حبیب الله رفیع وایي، ملا پاوند له یوه ډله وزیرو او مسیدو سره عبدالرحمان ته راغی او ورته یې وویل: "ته څه حق لرې چې زموږ ځمکه په انګرېز پلورې؟" عبدالرحمان ورته ویل چې هر څومره وزیر راځي دی به



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

افغانستان کې څمکې ور کوي. همداسې وشول او یو شمېر کسان افغانستان ته راغلل. خو ملا پاوند او ملګرو یې مبارزه وکړه او تر مرګ وجنګېدل."

که څه هم د نوموړي دا مبارزه د وزیرستان پولو کې پاتې شوه، خو سره نه شوه او له مرګ یې ۲۲ کاله وروسته وزیرستان په دې بریالی شو چې په وزیرو کې د ایپي فقیر په نوم یو بل سرلاری او مخکښ ومومي.

*د پښتنو منظور پښتین له کومه راغی؟

*منظور پښتین: د پښتنو وطن د ترهګری په پلمه لوټل شوی

په ایپي فقیر مشهور غازي میرزا علي خان د انګرېزیانو خلاف وسلواله مبارزه پر وزیرستان سربېره تر بنو او کواټ هم ورسوله.

استاد رفیع وایي، نوموړي باچاخان هم، چې عدم تشدد یې غوره باله، وسلوالې مبارزې ته هڅاوه.

"فقیر ایپي پر عدم تشدد ایمان نه درلود او باوري و چې د توري تېغ سره پښتانه ازادېدلی شي."

د استاد په خبره، فقیر ایپي هم د وسلو جوړولو فابریکه جوړه کړه او هم یې فرهنګي مرکز درلود چې د پښتون رڼا او ازاد پښتونستان په نوم یې رسنۍ هم چلولې.

استاد رفیع وایي، کله چې پاکستان جوړ شو بیا هم فقیر ایپي مبارزه روانه وساتله او سوېلي او شمالي وزیرستان مرکزونو کې یې د ازاد پښتونستان بیرغونه ودرول:

"د پاکستان سره یې زړوره مبارزه وکړه، خو جرمني چې د مرستې ژمنه کړې وه پر فقیر ایپي لارې بندې شوې او ونه توانېد چې مبارزه یې کامیابه شي."

د پښتون ژغورني غورځنګ ناستو کې ښځې هم ګډون کوي .

تر نوموړي دوه لسیزې وروسته شوروي پر افغانستان یرغل وکړ. څنګه چې د وزیرستان خلکو د پاچا امان الله په ملاتړ د انګرېزانو خلاف یا له هغه وروسته د نادرشاه په ملاتړ د سقاو ضد جګړې کړې وې، د شوروي یرغل پیلېدو سره هم ځینې وزیرستانیان له افغان مجاهدینو سره ملګري شول.

ان د پاکستان د طالبانو غورځنګ د یوې ښاخې وژل شوی مشر ملا نذیر احمدزی هم پخوا د حزب اسلامي ګلبدین حکمتیار غړی و.

د طالبانو واکمنۍ کې هم ځینې مسید او وزیر له طالبانو سره وو، کله چې د طالبانو واکمني وپرځېده، وزیرستان د طالبانو او القاعده په مرکز بدل شو.

ځایي طالبانو پر افغانستان سربېره ان پاکستان کې هم خپلې هڅې پیل کړې.

*د هند وېش: ترهګرۍ ځپلي پښتانه

" *پاکستان کې اوږدمهال ځورېدلي پښتانه خپل غږ اوچتوي"

د پاکستاني طالبانو غورځنګ وژل شوي مشر حکیم الله مسید د پاکستان پرضد د جګړې اعلانونه کول.

دغه سیمه کې د پاکستان د پوځ عملیاتو له کبله خلک بېلابېلو سیمو ته وکوچېدل، خو د شک په سترګه ورته کتل کېدل.

کراچۍ کې د ترهګرۍ په پلمه د نقیب مسید تر وژل کېدو وروسته د منظور مسید په نوم یو ځوان د تېر کال همدې ورځو شپو کې له وزیرستانه تر اسلام اباده لاریون وکړ.

د نوموړي لاریون په پرلت بدل شو او پر وزیرستان سربېره د سوات، خیبر او نورو سیمو پښتانه هم ور سره یو ځای شول.
دوی د پاکستان پوځ په دې تورن کړ چې ډېر بې ګناه خلک یې هم د طالبانو په نوم وژلي یا ورک کړي دي، د دوی کورونه یې وران کړي او ځمکې یې په ماینون ډکې کړې دي.
"د ګډ هدف لپاره پاکستان کې پښتانه پورته شوي"
کراچۍ کې د نقیب مسید تر وژل کېدو وروسته پښتو ژغورنې غورځنګ پیل شو.
منظور مسید په منظور پښتین بدل شو او له هغه راهیسې نه یوازې د پاکستان مختلفو سیمو کې لاریونونه کوي بلکې دې هڅو یې پر افغانستان سربېره
نوره نړۍ کې هم ملاتړي پیدا کړل.
که څه هم د پاکستان رسنیو کې یې تر ډېره د دې غورځنګ هڅو ته خبري پوښښ نه ورکول کېږي خو د نړیوالو رسنیو پام ور اوښتی دی.
د تېر اپرېل پر شلمه واشنګټن پوسټ ولیکل چې له ډېر وخت وروسته پاکستان کې پښتانه د یوه ګډ هدف لپاره سره یو شوي دي.
د دې ورځپاڼې په خبره، د منظور پښتین په مشرۍ د پښتون ژغورنې غورځنګ پرمختګ په پاکستان کې دوديز پښتانه سیاستوال او سیاسي ډلې



منظور پښتین

هم اندیښمنې کړې دي، ځکه هغوی اوس په سیاسي ډګر کې یو بل پیاوړی سیال پیدا کړي دي.
د منظور او پیر روښان ورته والی
تېر اکتوبر کې پښتون ژغورنې غورځنګ بنو کې غونډه درلوده. دې غونډه کې د سویلي وزیرستان د ملک مرزا عالم وزیر مېرمنې هم ګډون کړی و، چې د مېړه، دوو زامنو او د دوو لېوررونو په شمول یې له کوره د دیارلسو غړیو جنازې وتلې دي .
افغان لیکوال او خبریال نذیر احمد سهار چې اصلاً د وزیرستان دی او وزیرستان د مقاومت وروستی تمځی په نوم کتاب یې هم لیکلی وایي، وزیرستان د پښتنو د وسله والو غورځنګونو، یا مقاومتونو مرکز پاتې شوی، اکثره غورځنګونه له هغه ځایه را پورته شوي او نورو سیمو ته غځېدلي، یا همله پاتې شوي.
نوموړی د منظور پښتین هڅې له پیر روښانه سره ورته بولي :
"له نورو سره د ده او پیر روښان توپیر دا دی چې دواړه د وزیرستان له محدودې راووتل او خپل غورځنګونه يې ټولو پښتنو سیمو ته وغځول، خو د ملا پیونده، ایپي فقیر او ټي ټي پي والو اکثریت تمرکز په خپلو قبیلو و."

د منظور پښتين مظاهرو کې پر نارينه و سربېره ښځې، بوډاګان او کوچنيان هم برخه لري، خو ډېره برخه پلويان يې لوستي او ځوانان دي.